# مطبوعاتي اعلامیه

23/09/2025

## د افغانستان د مېرمنو لپاره د تاریخي ولسي محکمې قاضیان اعلان شول

مادرید، هسپانیه – ۲۲ سپتمبر ۲۰۲۵ — د افغانستان د میرمنو لپاره ولسي محکمې، چې د دایمي ولسي محکمې (PPT) تر چتر لاندې رامنځته شوې، د قاضیانو د پلاوي ټاکنه پای ته رسولې، او د ۲۰۲۵ کال له اکتوبر میاشتې څخه به په مادرید کې خپلې اورېدنې پیلوي.

محکمه به د څارنوالانو بیان، د ژوندي پاتې افغان میرمنو له شهادتونو او د کارپوهانو له شواهدو سره یوځای واوري، چې د طالبانو د جنست له مخې د ځورونې سیستم وڅیړي او د بین المللي قانون له مخې یې وارزوي.

د افغان مدني ټولنې د سازمانونو — **رواداري**، **AHRDO (د افغانستان د بشر حقونو او ډیموکراسۍ سازمان)**، **DROPS (د پالیسیو د څېړنو او پراختیايي مطالعاتو سازمان)**، او **HRD + (د بشر حقونو مدافعین پلس)** — په مشرۍ دا نوښت د سرغړونو ثبتولو، د ژوندي پاتې کسانو د غږونو پورته کولو، او حساب ورکولو یا مسئول گرځولو لپاره یو بنسټي پلیټ فارم چمتو کوي.

د قاضیانو پلاوی د نړۍ له گوټ گوټ څخه نوموتي فقیهان، عالمان او مدافعین راټولوي. په دوی کې د اساسي قانون وکیلان، د بین المللي قانون استادان، د بشر حقونو کارپوهان، دیني عالمان او ژورنالستان شامل دي، چې جنسیتي عدالت ته په وده ورکولو، د بشر حقونو دفاع، او د شخړو او روان ظلم و جبر له امله د غلي کړای شویو کسانو د غږ پورته کولو لپاره یې ځانونه وقف کړي دي. د دوی گډه کارپوهنه او تخصص انتقالي عدالت، بین المللي جنايي قانون، د اقلیتونو حقونه، د مطبوعاتو آزادي، او په ملي او نړیواله کچه د ښځو حقونه تر پوښښ لاندې راولي.

تایید شوي قاضیان دا دي:

<u>**ارسلي (ارانچا) گارسیا ډیل سوټو (هسپانیه)**</u> – ارواپوهه او د بشر حقونو کارپوهه، چې له ارواپوهنیزې او ټروما پوهنیزې لارې څخه گټه اخلي.

<u>**ایلیسنډا کالیویټ مارټینز (هسپانیه)**</u> – د نړیوال قانون پوهه، چې د انتقالي عدالت او نسل وژنې په مطالعاتو کې تخصص لري.

<u>**ایمیلیو رامیرز ماتوس (هسپانیه)**</u> – مدافع وکیل او عالم، چې په مدني قانون، د میراث قانون او په بشر حقونو کې تخصص لري.

<u>**غزال حارس (افغانستان)**</u> – د اساسي قانون وکیله او د افغانستان پخوانۍ د عامه څارنې افسره Ombudsperson.

**ماى السداني (مصر/متحده ايالات)** – د بشر حقونو وکيله او د منځني ختيځ د پاليسۍ لپاره د تحرير انسټيټيوټ اجرايوي رئيسه.

**مارينا فورتي (ايټاليا)** – ژورناليسته او ليکواله چې پر چاپيريال، حقونو او نړيوالو چارو تمرکز کوي.

**راشده منجوو (سويلي افريقا)** – د کيپ ټاون پوهنتون د قانون متقاعده استاده؛ د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي اړوند د ملګرو ملتونو پخوانۍ ځانګړې رپوټ ورکوونکې.

**کلپانا شرما (هندوستان)** – ژورناليسته او ليکواله چې د جنسيت، پراختيا او د رسنيو  اړوند د مسئول ګرځولو په برخو کې د خپل کار له امله پېژندل شوې ده.

پر قاضيانو سربيره، د افغان څارنوالانو يو ټيم به تور وړاندې کړي، چې د نړيوال قانون پر بنسټ به د جنست له مخې د ځورونې قانوني تحليل رامنځته کړي.

د اوريدنې په پای کې به قاضيان د وړاندې شويو شواهدو په نظر کې نيولو سره يو لومړنی حکم صادر کړي. محکمه تاييدوي چې د افغان ميرمنو شهادتونه بايد په ټرلو دروازو کې پاتې نشي او بايد په نړيواله کچه مطرح شي— څو د حذفولو پر وړاندې مقاومت او د عدالت غوښتنه وکړي، او پيوستون رامنځته کړي.

د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ اړيکه ونيسئ:

اړيکې:

د غوښتنليک سپارونکو سازمانونو اړيکه:

د ټليفون شميره: +32496989296
بريښناليک: Afg-pt@rawadari.org
ppt@permanentpeoplestribunal.org